# آیا پوهېږئ چې مفلس څوک دی؟

له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: آیا پوهېږئ چې مفلس څوک دی؟»هغوی وویل: په موږ کې مفلس هغه څوک دی چې درهم او توښه ونه لري، نو هغه وفرمایل: «یقینا چې زما په امت کې مفلس هغه څوک دی چې د قیامت په ورځ د لمانځه، روژې او زکات سره راشي، (خو) په داسې حال کې به راشي چې دې ته کنځل کړي، پر ده يې تور (تهمت) پورې کړی، د ده يې مال خوړلی، د ده وینه يې توی کړې او دا يې وهلی؛ نو ده ته به يې له نیکۍ ورکړل شي او دې ته به يې هم له نیکۍ ورکړل شي، نو که چېرته يې نیکۍ مخکې لدې خلاصې شي چې د خلکو حقونه ادا کړي، د خلکو ګناهونه به راواخېستل شي او پر ده به ورواچول شي، او بیا به په اور کې وغورځول شي.

[صحيح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپلو اصحابو څخه وپوښتل: آیا پوهېږئ چې مفلس څوک دی؟ هغوی وویل: په موږ کې مفلس هغه څوک دی چې پیسې او توښه ونه لري، هغه وفرمایل: زما له امت څخه د قیامت په ورځ مفلس هغه څوک دی چې د نیکو عملونو لکه لمانځه، روژې او زکات سره راشي، نو (په داسې حال کې به راشي چې) يو ته به يې کنځل کړي وي، او پر بل به يې په ناموس کې تور پورې کړی وي، او د بل مال به يې خوړلی او پرې منکر شوی به وي، او د بل وینه به يې توی کړې وي او ظلم به يې ورسره کړی وي، او بل به يې وهلی او سپک کړی وي، نو مظلوم ته به يې له نیکیو څخه ورکړل شي، که چېرته يې نیکۍ مخکې له دې خلاصې شوې چې د نورو حقونه او ظلمونه پرې خلاص کړي، د مظلوم له ګناهونو به راواخېستل شي او د ظالم په عملنامو کې به وګرځول شي، بیا به په اور کې وغورځول شي، ځکه چې هېڅ نیکۍ به ورته پاتې نه وي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6454

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee